د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه او حل لارې يې

نوماند پوهنیار انعام الله میاخېل[1]، پوهنوال دوکتور رحیم الله ځیرک[2] ډاکټر امان الله اسلمي[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n2.2025

ISSN: 3078-9575 (Print) ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸ تعداد صفحات: ۲۲ از صفحه ۱۷ تا ۳۸

## چکیده

کډوالي په نننۍ نړۍ کې یوه نړیواله پېژندل شوې پدیده ده، چې افغانستان هم ترې مستثنا نه دی. په تېرو څو لسیزو کې د ناامنۍ، اقتصادي ستونزو، بېکارۍ، ټولنیزې ناخوالې او نورو عواملو له امله ګڼ شمېر افغانان اړ شوي، چې خپل هېواد پرېږدي او بهرنیو هېوادونو ته کډوال شي. د دې موضوع څېړنه له دې اړخه ارزښت لري، چې د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه روښانه، د ټولنیزو ستونزو او کډوالۍ ترمنځ اړیکه وارزول شي، د مخنیوي ممکنه حل‌لارې موندلو ترڅنګ د حکومت او نړیوالو ادارو رول تحلیل شي. د دې څېړنې موخه دا ده، چې بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ د ټولنیزو لاملونو د پېژندلو سربېره د ټولنیزو لاملونو او کډوالۍ ترمنځ اړیکه وارزول شي. د کډوالۍ د مخنیوي لپاره ممکنه ټولنیزې حل‌لارې په ډاګه او د کډوالۍ په راکمولو کې د حکومت او نړیوالو ادارو رول وڅېړل شي. دا څېړنه د کمیتي (Quantitative) او تشریحي-تحلیلي-(Descriptive-Analytical) بڼه ده، چې د سروې مېتود پر بنسټ ترسره شوې ده. معلومات د Google Form له لارې د یوې جوړې شوې پوښتنپاڼې په مرسته راټول شوي، چې ۲۱۵ ګډونوالو يې ځواب ویلی دی. دغه څېړنه دې بنسټي پوښتنې ته ځواب وايي، چې بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ لاملونه او حل لارې څه دي. د څېړنې موندنې ښيي، چې د افغانانو د کډوالۍ بنسټیز لاملونه اقتصادي ستونزې، بې‌کاري، شخړې، ټولنیزې نابرابرۍ، د کاري فرصتونو نشتوالی، اداري فساد او رشوت، ټولنیز مشکلات او روغتیايي خدمتونو ته نه‌لاسرسی دي. د حل لارو په برخه کې ډېرې ګډونوالو د اقتصادي، اداري، تعلیمي او روغتیايي اصلاحاتو پر اړتیا ټینګار کړی دی او ځینې نورو ګډونوال د کاري فرصتونو ایجاد بنسټیز حل بولي. څېړنه په ټوله کې دا څرګندوي، چې که مناسبه اقتصادي، اداري او ټولنیزه فضا رامنځته شي، ٪۹۱,۱۶ خلک به د کډوالۍ اړتیا ونه لري. دا موندنې د دې اړتیا جوتونه کوي، چې د کډوالۍ د مخنیوي لپاره باید بنسټیز اصلاحات، د فساد پر ضد اقدامات، د کار زمینې برابرول، د خصوصي سکتور ملاتړ، د مسلکي زده کړو پراختیا او د ټولنیز عدالت تأمین ته جدي پاملرنه وشي.

**کلیدي کلیمې: بهرني هېوادونه، افغانان، کډوالي، ټولنیز لاملونه، اقتصادي ستونزې او د کار نشتوالی**

[1]. ژورنالېزم څانګه، ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون، miakhelinamullah322@gmial.com
[2]. پښتو ژبې او ادب څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون
[3]. کلینک څانګه، معالجوي طب پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.